مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

Jeffry j. Roberts
مترجم: عبدالباري جهاني

۲۰۲۰/۱۰/۱۴

# افغانستان په دوهم نړۍ وال جنګ کي

# The Origins of the Conflict in Afghanistan

## شپږم فصل

### څلوریمه برخه

## او د لېنکېستر د پلان رینبي

کانګریس د کریپس پېشنهاد رد کړ. دوي په خپل رسمي جواب کي د برتانیې دا دریځ وغانده چي لا یې هم د هند په دفاعي چارو کي پر خپله رهبري باندي ټینګار کاوه، مګر نور مواد یې د برتانیې د پېشنهاد په ملاتړ وه. کانګریس د هغه پلان ملاتړ نه کاوه چي هند ته یې سمدستي امتیازات نه ورکول، د هند مهمو ایالتونو ته یې د ډیموکراسی په راوستلو کي مهلت ته اجازه نه ورکوله او دې خبري ته یې اشاره کړې وه چي ایالتي خپلواکي، د بالکان په څېر د هند د وېشلو Balkanization معنا لري.

وروسته له هغه چي دا معلومه سوه چي برتانیه هند ته د سمدستي خپلواکۍ سره موافقه نه لري نو کانګریس د ۱۹۴۲ کال د اګسټ په میاشت کي «له هنده ووزی» پرېکړه منظوره کړه. که څه هم چي د ملکي نافرمانی تحریک له سره پیل سوی وو مګر د هند حکومت د کانګریس ګوند اکثر لوی مشران بندیان کړل او د ناکراریو مخه یې ونیوله. د چرچل حکومت، د جنګ په کلونو کي، بیا د هند پر مسله باندي غور ونه کړ.

شمال لوېدیځ ایالت هم، د جنګ په کلونو کي، آرام وو. په ۱۹۳۹ کال کي، د جنګ له پیل کېدلو څخه لږ وروسته، په شمال لوېدیځ ایالت کي د خان صاحب د خدایی خدمتګارانو حکومت، چي په ۱۹۳۷ کال کي د انتخاباتو له لاري قدرت ته رسېدلی وو، د کانګریس د همکاری نه کولو د فیصلې سره سم استعفی وکړه. خو د برتانیې حکومت ته د ماتي ورکولو او ستونزو سره د مخامخ کولو کوښښونو یې نتیجه ورنه کړه. برعکس، په سرحد کي شپږ کاله نسبتا کراري وه. وزیریستان په بشپړه توګه کرار نه وو مګر په ۱۹۴۱ کال کي د عراق د پېښو په تعقیب، له یو څه ناکراریو څخه وروسته، حتي سرزوری او جنګي فقیر ایپي هم پټ سو او بیا یې چنداني ستونزی پیښي نه کړې. د ۱۹۴۲ کال د اکتوبر پر اووه ویشتمه، د غفار خان له نیول کېدلو څخه وروسته، د کانګریس فعالیتونه بیخي بند سول.

د برتانیې حکومت ته معلومه سوه چي پښتانه، د زړه له کومي، له جرمني، ایټالیې، جاپان او کانګریس سره جوړ نه دي. د مثال په توګه، اپرېدیو د لندن بلیتز قربانیانو لپاره تحفه را ولېږله او د محسودو ډېر زیات کسان د جاپانیانو او هغو هندیانو پر ضد چي د جاپانیانو ملاتړ کوي جنګ ته حاضر سول؛ په دې شرط چي په جنګ کي ټول غنیمت به په دوی اړه لري. ځینو مذهبي مشرانو هغه سرحدي لمسوونکي، چي د نازیانو پر ځای له برتانیې سره جنګېدل، وترټل.

اکثریت پښتنو له نازیانو سره د جنګېدلو ملاتړ وکړ؛ او کانګریس ګوند یې له دې امله وغندی چي د بت پرستو جاپانیانو حمایه یې کوله. ځینو ډېرو کسانو د خدایی خدمتګارانو پر شخصیتنو باندي انتقادونه کول. ځینو به ویل چي د غفار خان زوی د یوې پاړسني ( زردشتی جهاني ) سره واده کړی دی او د ډاکټرخان صاحب لور له یوه سیکه پیلوټ سره، چي وروسته عیسوی سوی وو، واده کړی دی. ګورنر کنینګهم هم د دغه تبلیغاتي کمپاین ملاتړ کاوه او غوښتل یې چي په ۱۹۴۰ کال کي د مسلم لیګ حکومت جوړ کړي خو د مشرانو تر منځ یې د شخصي اختلافاتو او خودخواهیو له کبله بریالی نه سو.

د جنګ په ټولو کلونو کي، په سیمه کي، د محور د هیوادونو تبلیغات چنداني کامیاب نه سول. د جاسوسی عملیاتو یې هم چنداني نتیجه ورنه کړه. د جرمني جاسوسان د سیمي له مسایلو څخه بیخي بېخبره وه. څرنګه چي د محور جاسوسانو هیڅ وخت خپل اسرار نه سوای ساتلای نو د برتانیې او افغانستان حکومتونو یې هر وخت فعالیتونه شنډول. د جرمنیانو خارجي دفتر، د هغوی نازي ګوند او د پوځي استخباراتو ادارې هر یوه جلا جلا پلان تعقیباوه؛ کله کله



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ

به دوو ادارو یو پلان اخیستی او کله کله دوو یا دریو ادارو د یوه بل پر ضد عملیات کول. د جاپانیانو او ایټالویانو کوښښونو هم چنداني نتیجه ورنه کړه بلکه وضع به یې لا هم پیچلې کړه. د مثال په توګه د جرمني د خارجه وزارت د جاسوسي اداره د هاشم خان د بېطرفی له سیاست څخه په تنګه سوه او د امان الله خان قدرت ته د رسولو پروګرام یې پیل کړ. د جرمني خارجه وزارت پلان درلود چي غلام صدیق چرخي استخدام کړي او د شوروي د مرکزي اسیا هیوادونو ته یې ولیږي او هلته د امان الله خان د طرفدارانو یو لښکرجوړ کړي او پر کابل باندي حمله وکړي. د نازي ګوند او د جرمني د دفاع وزارت استخباراتي اداره د دې پلان سره مخالف وه، ځکه چي د دې پلان زیاتره تکیه د شوروي اتحاد پر همکاریو وه او د هغوی ټول هغه زحمتونه یې په اوبو لاهو کول چي د کابل د رژیم د ترلاسه کولو لپاره یې ګاللي وه؛ او د دې پلان د ناکامېدلو په صورت کي به افغانستان د برتانیې غیږي ته لوېدلای. هیټلر، چي شخصاً د امان الله خان د بیرته قدرت ته رسېدلو له طرحي سره مخالف وو، د دغه پلان د پرېښودلو امر وکړ. د ایټالیې سفیر پیټرو کوارونې Pietro Quaroni په سرحدي قبایلو کي د یوه لوی پاڅون لپاره پلان طرح کړی وو. جرمنیانو، چي فکر یې کاوه برتانیه نن سبا تسلیمږي، دغه مفکوره ردوله او ویل یې چي دا کار به په منځني ختیځ او هند کي سپین پوستان نور هم سپک کړي.

د ۱۹۴۲ کال د اوړي په موسم کي، د جرمني قواوو شورویان د سټالینګراډ او د ققفاز خواته پر شاکړل په افریقا کي د رومل قواوي په مصر کي د الامین پر خوا باندي مخته ولاړي او په هند کي د کریپس د پلان ردېدلو په هند کی د یوه لوی ښورښ د بیل کېدلو امیدونه را پیدا کړي وه. د افغانستان حکومت، له دې ویري چي جرمنیان به یې سرحد ته ور ورسیږي، دا غوره وبلله چي له جرمني سره هم یو سر وښوروي او د شوروي د سقوط په صورت کي د همکاری ژمنه ورسره وکړي. د مثال په ډول، عبدالمجید زابلي ژمنه وکړه چي که د جرمنیانو پوځونه د افغانستان سرحداتو ته نیژدې سول نو ۵۰۰ زره قبایلي پوځیان به له هغوی سره همکاری ته تیار کړي. په داسي حال کي چي د مالیې وزیر له ډېره وخته د هاشم خان له حکومت سره پر مالي پالیسیو باندي اختلاف درلود او په قبایلو کي یې هیڅ نفوذ نه درلود. هاشم خان، که څه هم چي کوښښ یې کاوه د جرمني له انکشافي مرستو او د تخنیکي مهارتونو څخه ګټه واخلي، هر وخت د نازیانو سره مخالف وو. دی د جنګ په ټول جریان کي د متحدینو کلک ملګری پاته سو. ده د جرمني ډېر زیات پیشنهادونه رد کړل او دا د برتانیې آرزو وه. هاشم خان د برتانیې په ګټه پالیسی تعقیبولې خو داسي نه چي د لندن تر لاس لاندي سړی ښکاره سي. سر ګیلیس سکوایر Sir Giles Squire چي په ۱۹۴۵ کال کي، په کابل کي د برتانیې سفیر سو، وویل چي د هاشم پالیسي زموږ ډېره زیاته په ګټه وه او زه فکر نه کوم چي دې پالیسی ته چا په عمومي صورت او مناسبه توګه توجه کړې وي. دغه ډول پالیسی افغانستان او برتانیه تر بل هر وخت سره نیژدې کړل.

پر شوروي اتحاد باندي د جرمني د یرغل څخه لږ وروسته، شوروي اتحاد له افغانستان سره خپل سرحدونه تړلي وه. وروسته د ایران اشغال، د محور له هیوادونو سره د افغانستان ارتباط په بشپړه توګه وشلاوه؛ او بیا نو برتانوي هند یوازینی هیواد وو چي افغانستان ته یې اکمالات رسولای سوای. څرنګه چي پر افغانستان باندي ټولي لاري بندي سوې نو د ټولو افغانانو لپاره دا اسانه وه چي د برتانیې له خوا مرستي ومني. برتانیې د متحده ایالاتو په مرسته له دې فرصت څخه ګټه واخیستله او افغانستان ته یې زیات خوراکي مواد ولېږل، صنعتي مواد او دغه راز ځیني پوځي سامانونه او وسلې یې ور واستولې. د هاشم خان حکومت په عوض کي په لس هاوو خارجي اجینټان ونیول. په دې کي څو تنه هندي نېشنلیسټان هم شامل ول او ټول یې هند ته ورولېږل.

په ۱۹۴۲ او ۱۹۴۳ کلونو کي، د متحدینو د اساسي بریالیتوبونو سره سم د افغانستان حکومت له لوېدیځو متحدینو سره په عامه خپل ملاتړ اعلان کړ. هاشم خان په ۱۹۴۳ کال کي له برتانیې او متحده ایالاتو سره د اتحاد غوښتنه وکړه مګر متحدینو، د شوروي اتحاد سره د خپلو اړیکو د خرابېدلو له ویري، او دا چي افغانستان دوی ته په بدل کي هیڅ شی ورکولای نه سي، د هاشم خان غوښتنه قبوله نه کړه. سره له هغه چي متحدینو د هاشم خان غوښتنه رد کړه هغه بیا هم د اقتصادي او تعلیمي تماسونو د ټینګولو غوښتنه وکړه. د ۱۹۴۴۴ او ۱۹۴۵ کلونو په جریان کي د افغانستان مطبوعاتو، د حکومت تر نظارت لاندي، د متحدینو په ګټه زیات مضامین او رپوټونه خپاره کړل؛ د متحدینو له اقتصادي همکاریو څخه یې مننه وکړه او د راتلونکو همکاریو هیله یې څرګندوله. د افغانستان د حکومت په سلوک کي د تغییرراتللو یو مثال د کابل په پوهنتون کي د دریو انګلیسي ښوونکو استخدام دی؛ د بنګال د شاهي ایشیاټیک انجمن سره د مطبوعاتو تبادله، په میوند کي د برتانیې پوځي هدیرې ته د اوبو د حق ورکول او تر ټولو مهم د ښوونځیو د تاریخ د کتاب له وقایې څخه د ۱۸۴۱ کال له جنګ څخه د ژوندي پاته سوي ډاکټر برایډن د تصویر لیري کول وه.

یو شمېر پېښو، له جنګ څخه وروسته، له افغانانو سره د همکاری کولو هیلي زیاتي کړې. د جنګ په کلونو کي د افغانستان اقتصادي وضع بیخي خرابه سوه. د جرمني اکثري اقتصادي پروژې له پیل کېدلو څخه لږ وروسته پر مخ بندي سوي وې. شاهي کورنۍ، د عمومی نارضاییت له زیاتېدلو سره د هیواد عصري کولو ته متوجه سوې وه؛ ځکه چی له عصري کولو پرته د هغوی خپل قدرت ته خطر متوجه وو.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

د افغانستان پوځي کمزوری نور هم له لوېديځ سره د هغه هيواد همکاري ضروري کړه. په ۱۹۴۵ کال کي عسکري خدمت ته د افرادو د جلبولو په مقابل کي ساپيانو ښورښ وکړ. سره له هغه چي، د اکثرو معيارونو له مخي، دا يو وړوکی ښورښ وو خو حکومت يې په کړارولو کي له سختو ستونزو سره مخامخ سو. بالاخره حکومت مجبور سو چي نور قبايل وسله وال کړي او د ښورښ د کنټرولولو په منظور عسکري خدمت ته د افرادو د جلبولو څخه تېر سو.
پر دې برسېره نورو پيښو، له شوروي اتحاد څخه د افغانستان د حکومت وېره زياته کړه. شورويان، چي په افغانستان کي د امريکا او انګليسيانو پرله پسي مداخلو په غوسه کړي وه او د ايران له شمال څخه ايستل سوي ول نو هاشم خان او د هغه څخه وروسته صدراعظم شاه محمودخان، چي په ۱۹۴۶ کال کي، قدرت ته ورسېدی، د اقتصادي امتيازاتو د ترلاسه کولو لپاره، پرله پسي ډاراوه. دوی دغه راز د آمو د سيند پر غاړه د داوړو هيوادونو ترمنځ د پولي د ټاکلو پر سر د نويو خبرو په وخت کي ، د افغانستان په شمال کي، خپل جاسوسي فعاليتونه هم زيات کړل. سره له هغه چي دغو جاسوسانو د افغانستان په شمال کي، په پخوانيو باسماچيانو کي، چنداني طرفداران پيدا نه کړل خو افغانستان ته يې، په شمال کي، پخواني تهديدونه ور په زړه کول. د افغانستان حکومت د داخلي او بهرنيو تهديدونو سره د مخامخ کېدلو له امله مجبور سو چي د برتانوي هند سره د اړيکو د نيژدې کولو کوښښونه وکړي. برتانيي هم د دوی غوښتنو ته مثبت جواب ورکړ.
د افغانستان او برتانيي تر منځ د پوځي اړيکو بهترېدل زياتره په کابل کي د برتانيي د سفارت د پوځي اتشه، ډګرمن اې ايس لينکسټر، د فعاليت محصول وو. هغه يو تجربه کار صاحب منصب وو او د افغانستان له وضع څخه ښه خبر وو؛ او په ۱۹۳۹ کال کي يې د جنرال مولزورت سره يو ځای د افغانستان د پوځ تفتيش کړی وو. د کابل د حکومت مشرانو لينکسټر ته ډېر درناوی درلود. لينکسټر، تر ۱۹۴۵ کال پوري، په دې عقيده وو چي د افغانستان پوځ نه ښه روزنه او نه ښې وسلې لري او يوه عصري جنګ ته تياری نه لري. دی په عمومي صورت په دې عقيده وو چي افغانستان، پرته له دې چي د يوه بل وروسته پاته هيواد سره د جنګ وړتيا ولري، د عصري جنګ قابليت نه لري.
داوود خان، چي په هغه وخت کي د دفاع وزير وو، له لينکسټر سره دا منله چي د افغانستان پوځيان، ناپوه، ټنبل، په مذهبي لحاظ ډېر محافظه کار دي او با کفايته اداره نه لري او دغه ټول د افغانستان د پوځي اصلاحاتو په مخ کي خنډونه دي. خو داوود خان بيا هم هيله درلوده چي برتانيه به تخنيکي او تعليمي مرستي ورسره وکړي او حتی هيله يې درلوده چي، له جنګ څخه وروسته، د افغانستان صاحب منصبان برتانيي ته واستوي.
لينکسټر دغه راز ويل چي دا د افغانستان لپاره غيرممکنه ده چي د شوروي له يرغل سره مخامخ جګړه وکړي او په دې باره کي فکر کول بې عقلي ده. دی په دې عقيده وو چي افغانستان ايله د پنځوس زره پوځ درلودلو توان ولري او ويل يې چي هغه هم يوازي د خپلو داخلي ښورښونو د ځپلو لپاره په کار اچولای سي. لينکسټر بيا هم د هند له لاري افغانستان ته د وسلو د لېږل کېدلو طرفداري کول او ويل يې چي د افغانستان پوځ بايد د هند د نيمي وچي په دفاعي سسټم کي ورګډ سي. ده وليکل:
« په کابل کي چنداني داسي ډيپلوماټ نسته چي په دې پوه سي چي په پوځي ساحه کي نفوذ کول ډېر مهم دی....پوځ دی چي ډېر مهم دی.... او شاهي کورنۍ او حکومت د هيواد د ثبات لپاره پر هغه باندي تکيه کوي. »
لينکسټر دې خبري ته متوجه وو چي که برتانيه افغانستان ته وسلې ورکړي نو په افغانستان کي ډېر زيات سياسي نفوذ ساتلای سي. دوی دا کار په ډېره ارزانه بيه کولای سي خو په مقابل کي د يوه احتمالي تهديد په مقابل کي د افغانانو دفاعي قوت غښتلی کوي.
لينکسټر، د ۱۹۴۴-۱۹۴۵ کلونو په ژمي کي، هند ته د افغانستان د يوه پوځي هيات د سفر لپاره ترتيب ونيوی. له دې څخه لږ وروسته د افغانستان او برتانيي مقاماتو يوه جامع موافقتنامه سره لاسليک کړه چي د هغي په اساس برتانيي موافقه وکړه چي افغانستان ته وسلې ورکړي او پوځيان يې ورته وروزي. د لينکسټر د پلان په اساس، برتانيي افغانستان ته دېرش ميليونه روپيو په اندازه وسلې په نيمه بيه ورکړې. افغانستان بايد دا پور په لسو کالو کي، د سود په ډېرو اسانو شرايطو پرې کړی وای. د افغانستان د پوځی قطعاتو لپاره، ډېر ژر، برتانوي روزونکي وټاکل سول او له هند څخه د وسلو او مهماتو را رسېدل پيل سول. په ۱۹۴۶ کال کي ۱۵۰يي صاحب منصبان او عسکر، د يو کلني روزني لپاره، هند ته واستول. بله ډله په ۱۹۴۷ کال کي ولېږل سوه.
د ۱۹۴۷ کال تر لومړيو شپو ورځو پوري د افغانستان پوځ تر ډېره ځايه د برتانيي پر پوځي مهماتو، روزونکو او تخنيکي مرستو باندي تکيه سو. برتانيي دغه راز د افغانستان په هوايي قوه کي هم ډېر زيات نفوذ وکړ او پر افغانستان باندي يې جنګی الوتکي په مناسبه بيه خرڅي کړې. د افغانستان ټوله هوايي قوه د برتانوي الوتکو څخه جوړه وه او پيلوټان يې ټول په برتانيه کي روزل سوي ول.
د نولسمي پېړۍ له لومړيو کلونو څخه، د لومړي ځل لپاره، د افغانستان او برتانيي حکومتونو د همکارۍ پاليسی ته مخه کړې وه. يوازي د افغانستان حکومتي مقامات نه، بلکه اکثر افغانان له برتانيي او د متحده ايالاتو په شمول، لوېديځو متحدينو سره د اړيکو ټينګولو ته لېواله وه. د شاه محمود خان حکومت، چي د نورو اقتصادي مرستو هيله يې درلوده، د وسلو په لاسته راوړلو او د پوځيانو په روزل کېدلو ډېر خوشاله وو او د دغو اړيکو د دوام هيله يې درلوده. داوود خان په ځرګنده وويل چي د افغانستان او برتانيي او د افغانستان او هند اړيکي هيڅ وخت په دغه اندازه


افغان جرمن آنلاين په درنښت ټاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ

ښه نه وه. خو په سيمه کې د برتانيې دريځ د لړزېدلو په حال کې وو. د هند د وېشل کېدلو څخه وروسته، برتانيې نور افغانستان ته د وسلو ورکولو او د هغه هيواد د امنيت له خوندي کولو او له هغه سره د مرستي کولو سره علاقه نه درلوده. هند او پاکستان هم د برتانيې په څېر بې علاقې وه. څه کم لس کاله وروسته داوود خان، د صدراعظم په حيث، د افغانستان خپلواکي، شوروي اتحاد ته، د مرستو په بدل کې په اجاره ورکړه.

نور بيا


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې ښې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليږلو مخکې په ځير و لولـئ